


شهيد امان الله سيلاب "ساپی" د خدای بخښلي وکیل صاحب شهيد نصر الله خان "ساپي" زوی او دمرحوم مفتي عبدالغفور خان لمسی په 1312هـ ش کال د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالی په غازي کلي کې زیږیدلی و.




قلمه!
قلمه !ښکل به دی کم نوم د جانان ولیکه
بیا مرور اشناته لعل ومرجان ولیکه
قلمه ! جار به دی شم ګوری نثار به دی شم
د خندا ډکه جویه د ناز کاروان ولیکه
ولیکه غم د اشنا ټول زیات وکم د اشنا
که زما لیکی ورته څیری ګریوان ولیکه
وریځې کړی ولیکه سترګی خوړی ولیکه
عنبری زلفی د یار د عطرو کان ولیکه
قلمه !ښکل به دی کم دیار کاکل به دی کم
اختیار کل به دی کم داغ دهجران ولیکه
رشوت خیانت چاپلوسی له تانه نه غواړم
ماته دښکلو دنیا کوکۍ خندان ولیکه
خلک به ستایی په تا لوړی ماڼۍ قصرونه
ماته د مینی کیږدۍ ښکلی جهان ولیکه
د ډالرپوندا او ریال حساب په تا نه کوم
ماته دپاکی مینی سوی رومان ولیکه
سیلا به ! یار که غواړی د زړه بهار که غواړی
پام ! تندا وتیز مه وایه جان او قربان ولیکه
شاعر: امان الله سیلاب ساپي
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود


د اشنا سلامخانی له ځم
مه می ستنوه زاهده پریده میخانی له ځم
زړه کې می ارزو ده یو ځل دغه کارخانې له ځم
او ښکی بدرګه شوی د ارزو د قافلی سره
ګڼو ولولو کی د اشنا سلامخانی له ځم
نه یمه زاهد د کعبې نه د بتخانی عابد
چیرته چې وی ستا حکایت هغه ترانې له ځم
دي دنګو ماڼیو نه جفا جفا ناری اورم
نور به د وفا په امید شاړې ویرانې له ځم
نه غواړمه دا چې پنجره ماته زه تری خلاص شمه
خوښ یم د پنجرو سره د مینی پیمانې له ځم
دا ټولی کرواړی چې منلی دی سیلابه ما !
دا به می تقدیر وی چې د دام لاندې دانې له ځم
شاعر: امان الله سیلاب ساپي
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود